محمد نواز حقیقت سانین د۲۰۱۴م کال د نومبر ۲۹

د خپلواکۍ خواږه یادونه
(د انګریزانو په وړاندې د کونړ د ولسونو د میړنتوب کیسې او نکلونه)

(پنځمه برخه)

په جبهه کې د اخلاص صاحب ناروغي

ګرمي ډېره زیاته وه، غازي میرزمان خان د ناړۍ په قرارګاه کې د مجاهدینو د چارو په تنظیم مصـــروف و، کله به بریکوټ ته ورته او کله به یې دوکلام ته د مجاهدینو د احوال او لیدلو لپاره پر خپل اس ســپور له مجاهدینو ســره تګ راتګ کاوه، خان میرزمان خان له خپلو ملګرو سره د ویالي پر غاړه سیوري ته په خبرو لګیا و، چې اخلاص صاحب په ویاله کې له جامو سره لمبل او څو دقیقې په ویاله کې ناست و، غازي میرزمان خان، چې ولید له خپل ځایه پاڅېده او پر اخلاص صـــاحب یې غږ وکړ چې څه چل دی، چې له جامو ســـره په ویاله کې پروت یې؟ لوی خان ورو ورو ورنږدې شو، اخلاص صاحب راپورته شو او غازي میرزمان خان ته یې په موسکا وویل: خان صاحب دا دوه ورځې کېږي، چې تبه مې ډېره شـــوې او ډېر ناروغه یم. زړه مې بند دی، اشـــتها نه لرم او ســـړه لرې مې ده، لوی خان له اخلاص صاحب سره ډېره مینه او دوستي لرله، له لاسه یې ونیو او ورو په خبرو خبرو د کېناستو ځای ته راغلل، ټول مجاهدین ور پاڅېدل، په کټونو کې دواړه سره نږدې کېناستل، داخلاص صاحب له ناروغۍ ناست کسان خبر شول، یو تن چې حکیمي (یوناني) طبیب و، غازي میرزمان خان ته یې وویل: اخلاص صـــاحب ډېر ناروغه شـــوی او په تبه کې یې غوړه غوښه او غوړه ډوډۍ خوړلې ده.

غازي میرزمان خان، محمد نومي یو مشـر مجاهد ته وویل: سـبا سـهار په خیر سـره زما پر آس له دوو تنو مجاهدینو سره اخلاص صاحب چغسرای یا جلال اباد ته ورسوئ، له اخلاص صاحب سره دوه تنه مجاهدین (نور محمد او تور محمد) مله شول، چې له اخلاص صاحب سره تر درملنې وروسته دهغوی تر کوره ولاړ شي.

اخلاص صـاحب وویل، چې زه نه ځم، دومره ناروغه نه یم، خو لوی خان په ټینګار ورته وویل، زموږ د ټولو خوښـه ده، چې ته خپل کور ته لاړ شـــه، درو درملو ته پوره اړتیا لرې، ســـهار وختي اخلاص صـــاحب له دې د دوو مجاهدینو سره د ناړۍ له قرارګاه نه چغسرای ته لاړ.

د غازي میرزمان خان له خوا میرزا حیاوالدین ته د خپل آس بخښل

میرزا حیاوالدین هوډمن، لایق او هوښیار شخصیت و، په پښتو، فارسي، عربي ژبو پوهېده او لیکل لوستل یې کولای شـــول، د اســـتقلال د څلورمې جبهې په قرارګاه کې د مشـــرانو په کتار کې یو ایماندار مجاهد ګڼل کېده او مجاهدینو به ورســـره ډېر ښـــه چلند کاوه، پر هر چا ګران و، غازي میرزمان خان هم پرې ډېر زیات باور او اعتماد کاوه او زیات وختونه به دواړه په بریدونو، مورچلونو او یرغلونو کې د انګرېزانو پر ضد یوځای و.

کله چې غازي میرزمان خان د استقلال د څلورمې جبهې له قرارګاه څخه چغسرای ته روانېده، ډېر مشران او مجاهدین راټول شـــوي وو ، لوی خان د میرزا حیاوالدین په باره کې ډېرې خبرې وکړې او دده د اخلاص، پاکۍ، ایمانداری او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جرات یادونه یې وکړه او خپل یو سپین آس یې میرزا حیاوالدین ته بخشش ورکړ او ویې ویل: میرزا حیاوالدین او نور ډېر مشران مجاهدین شته، چې د ډېرو سوغاتونو حق لري، خو زه د لوی پروردګار له درګاه څخه ټولو مجاهدینو ته په اخرت کې ددوی د هلو ځلو او سربښندنو په بدل کې جنتونه غواړم.

له انګرېزانو سره وروستی خبرې

د بریکوټ دوکلام شمال خواته یو لوی او هسک غر (سنګالي) له ورایه ښکاري، ددې غره ختیځ ته د چترال سیند او لویدیځ ته د نورستان لنډی سین بهېږي، دا دواړه سیندونه د میزرو کڅ چې د ارنوی کڅ ته مخامخ پروت دی او د ختیځ نورستان دروازې (دوابه) ته له باغچې سره نېږدې پروت دی، یوځای کېږي.

د استقلال د څلورمې جبهې زیات پوځي مورچلونه ارنوی ته نږدې مخامخ په دوکلام او بریکوټ کې جوړ شوي وو او د انګرېزانو مورچلونه په ارنوی، لام بربټ، کوري، کواتي کې جوړ شوی و.

مشرانو مجاهدینو او سرلښکر غازي میرزمان خان پرېکړه وکړه، چې یو شمېر مجاهدین باید د (سنګالي) غره له پاسه ځای پر ځای شي او له دې غره نه هرې خواته څارنه (ترصد) وکړي.

(٤٠) تنه مجاهدین ددې غره څوکې ته وختل ، دا وخت انګرېزانو او د چترال مهتر پاچا کسانو ته ډېره مرګ ژوبله او تلفات اړولی وو او له وارخطایی سره مخامخ شوي وو، جنګي روحیه یې له لاسه ورکړې وه، په دغو ورځو کې د ارنوی چوڼی ته اور واچول شو او د لام بربټ مورچلونه په اور وسول، انګرېزان پکې ووژل شول او ځینې نور یې وتښتېدل، چې د بیا راتلو او یرغل وس یې نه درلود. د دغه هسک غره پر ځنګلي څوکه به مجاهدینو د شپې له خوا ډېرو لرګیو ته اور واچاوه، چې لمبې به یې انګرېزانو له میرکنډې او دمیل څخه لیدلې، په انګرېزانو به له وېرې لړزه راتله او د درېدلو قدرت یې نه درلود او بېرته یې ارنوی یا لام بربټ ته د راتلو لپاره ګام نه شو پورته کولی. انګرېزانو او د چترال دپاچا کسانو به د شپې له خوا ددغه مجاهدینو اور بلولو او د لمبو په لیدو پرېشاني او مایوسي احساسوله او ویل به یې چې افغاني پوځیان بیا برید او یرغل کوي. که څه هم میرکنډې او دمیل او دغه هسک غر ډېره اوږده فاصله لرله، خو د شپې له خوا اور ډېر نږدې ښکاري، د میرکنډې څخه د انګرېزانو له خوا د استقلال د څلورمې جبهې مشر غازي میرزمان خان ته لیکلی احوال راورسېد، چې سام بر (Sambar) نومی یو انګریز له تاسې سره له نږدې ګوري، که اجازه ورکړئ، نو بریکوټ یا دوکلام ته به هم راشي.

غازي میرزمان خان ورته وویل: افغاني خاورې ته انګرېزانو لپاره د قدم حق او اجازه نه شته، زه به دوه تنه مشران مجاهدین درولېږم، د ارنوی او دوکلام د خوړ په کوزه برخه کې به درسره ووینې او مجاهدین به خبر کړو، چې تاته څه تاوان ونه رسوي.

انګرېز د دوکلام او ارنوی د خوړ غاړې ته راغی او له افغاني اړخ نه دوه تنه مشران ورسره مخامخ شول، انګرېز ورته وویل، موږ له ارنوی، ارنوی کڅ او لام بربټ نه وتلي یو، ستاسې مجاهدین په (سنګالي) غره کې اوس هم شته، باید، چې ښکته شي، مشرانو مجاهدینو د غازي میرزمان خان په هدایت انګرېزي واکمن ته وویل که چېرته دا ځل بیا ارنوی، ارنوی کڅ او لام بربټ ته راشئ، نو ډېر به پښېمانه شئ، په خپلو وینو کې به ډوب شئ.

انګرېز هئیت وویل، چې نور موږ له میرکنډې څخه ستاسو لور ته نه درځو، جنګ نه غواړو، سوله کوو.

افغاني مشرانو ورته وویل: زموږ مجاهدین هسک غره ته ستاسو د څارنې لپاره پورته ختلی، که تاسې یا د چترال مهتر بیا څه ګام پورته کړي، نوځواب به یې په چترال کې وګوري او د روش به له ارنوی تاڼې نه هم زیات لوټې لوټې او په اور وسوزي.

دا د مجاهدینو وروستی خبرې وې، چې له انګرېز افسر سره یې مخامخ وکړی، خو افغاني خوا د سنګالي له غره څخه د مجاهدینو دکوزېدو خبره ونه منله.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سنګالي غر



د دوکلام په شمال کی د ارنوی کلی چی د پرنګیانو ناولی هیلی پکې
د غازی میرزمان خان په مشری ښخی شوې.

د بریکوټ او دوکلام شمال خواته د سنګالي غر ښکاره او هسک ولاړ دی، د سنګالي تاریخي غر د ښونانو ،ځېړیو، ذښترو او په شنو ونو پټ ښکاري، ددې هسک غره لمر خاته ته د چترال سیند او لمر لویده ته د باشیګل لنډی سیند بهېږي او دواړه سیندونه ددې هسک غره په لاندې برخه د (میزرو کڅ) کې یوځای کېږي او په جوش او په هیبت د کونړونو په خاوره په غورځنګونو د سپین غر په لور بهېږي، د دواړو سیندونو د یو ځای کېدو سیمه کونړ ولایت له شرقي نورستان نه بېلوي.د سنګالي غر یو هسک او شین ځنګلي غر دی چې لوړوالی یې (۷۰۰) مترو ته رسېږي، ددې غره له سره د چترال زیاتې برخې لکه ارنوی، لام بربټ، کواتي، دمینیسار، میرکنډي، دروش او ځینې نورې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سیمې ښکاري، کله چې انګرېزانو د کونړ،د چترال په جبهه کې ماته وخوړه، ددغه غره سرته افغان مجاهدین له خپلو وسلو سره داسې وخت ختلي وو، چې غازي میرزمان خان پر چترال باندې یرغل او بریدونه وکړل او انګرېزان په لام بربټ، ارنوی، کواتي، دمیل کې مات شول او دروش ته وتښتېدل او ځینې یې چترال ته ورسېدل.

د سنګالي غره مجاهدینو به د انګرېزانو ځایونه او د چترال د مهتر پاچا پوځیان له همدغه ځایه څارل او سنګالي غر دښمن دقوتونو د څارلو لپاره یو ځانګړی پوځي محل ګڼل کېده.

د شپې له خوا به افغان مجاهدینو ددې غره پر سر ډېر اور بلاوه، دغه د اور لمبې به د چترال له زیاتو سیمو څخه ښکارېدلې، پخواني مشران وایي چې ددې اور او لمبو په لیدلو به انګرېزان او د چترال مهتري پوځونه وارخطا کېدل او فکر به یې کاوه چې ګنی افغاني مجاهدین یو ځل بیا چترال ته ننوځي او غزا به کېږي. افغاني مجاهدینو به دا کار ځکه کاوه، چې انګرېزان او چترالي پوځونه خبر شي، چې موږ لا یو او د وطن د ساتنې لپاره چمتو او ویښ ګرځو. د انګرېزانو او د چترال د مهتر پوځ څو څو ځله د دوکلام تانې ته راغله او ویې ویل موږ نور نه غواړو، چې جنګ وکړو د سنګالي د غره پوځیان باید کوز شي.

افغاني مسوولینو به ورته خندل او ویل به یې، چې دا مجاهدین په خپله خوښه دغه غره ته پورته شوي دا په تاسو باندې یرغل او برید نه کوي د انګرېزانو او د چترال د پوځ کسانو به ورته ویل، چې دا کسان د شپې اور بلوي، موږ پرېشانوي او زموږ کسان تشویش کوي، چې مجاهدین بیا غزا کوي.

د انګرېزانو او د چترال د مهتر کسانو خپل معنویات له لاسه ورکړي وو، تش د غره په سر له اور نه هم په وېره کې وو، خوب او ارام یې نه شو کولی.

په دې هکله د زرو کڅ نور محمد کاکا وایي مجاهدینو ته به اوبه او خوراکي شیان دباغیچې پر لار تلل، د سنګالي د غره مجاهدین د دوی د مېړانې له امله په یوه لویه غونډه کې، چې په بریکوټ کې جوړه شوې وه دغازي میرزمان خان لخوا وستایل شول او ډالۍ ورته ورکړ شوې.

(دپنځمې برخې پای)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ